إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ». «د انسان، شرک او کفر تر منځه توپير: د لمانځه پرېښودل دي

له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوريدلي دي چې ويیل يې: «إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ». «د انسان، شرک او کفر تر منځه توپير: د لمانځه پرېښودل دي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د فرض لمانځه د پرېښودو په اړه خبرداری ورکړی او فرمايلي يې دي چې د يو انسان او په شرک او کفر کې د لويدلو تر منځه يوازې د لمانځه پرېښودل دي، نو لمونځ د اسلام له ارکانو څخه دويم رکن دی او په اسلام کې ستر حيثيت لري، چا چې پرېښوده پداسې حال کې چې له فرضيت څخه يې منکر و، نو د مسلمانانو په اجماع کافر دی او که چېرته يې پکې ناغېږي وکړه او بيخي يې لمونځ کول پرېښودل نو بيا هم کافر دی، او پدې اړه د صحابه کرامو اجماع رانقل شوې ده او که چېرته يې کله پرېښوده او کله يې لمونځ کاوه نو هغه ته دا ستر ګواښ متوجه دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65093